# د لوړو زده کړو اونیزه

# هفته نامه تحصیلات عالی

(۲٤۳) ګڼه - ۱۰ کال - چنګاښ - ۱٤۰۲ هـ.ل


## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په یوه ناسته کې د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د استادانو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل

د لوړو زده کړو سرپر ست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب، په داسې حال کې چې د کابل پوهنتون مشرتابه پلاوي هم حضور درلود، د دغه پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي له استادانو سره په یاد پوهنتون کې ناسته وکړه.

په پیل کې د کابل پوهنتون رئیس دوکتور اسامه عزیز د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي په اړه معلومات ورکړل او یاده پوهنځی یې په اسلامي ټولنه کې مهمه وباله.

همدارنګه د یادې پوهنځي استادانو د دغې پوهنځي لپاره د نوي ودانۍ جوړولو، د فوق الیسانس برنامو ایجاد، د شرعیاتو پوهنځي محصلینو ته د کار زمینې برابرولو، شرعیاتو پوهنځي ته د لار موندنې لپاره د اختصاصي کانکور ایجاد، د نصاب او شرعیاتو پوهنځي د څانګو پراختیا  او د علمي څېړنو لپاره د لا زیاتې زمینې برابرولو په برخه کې خپلې غوښتنې او وړاندیزونه وړاندې کړل او په یادو برخو کې یې خپلې ستونزې شریکې کړې.

وروسته د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د یادې پوهنځي د استادانو د ستونزو حل خپل کاري لومړیتوب وباله او ډاډ یې ورکړ چې د هغوی د غوښتنو او وړاندیزونو په برخه کې به عملي ګام اخلي.

دغه راز د لوړو زده کړو سرپرست وزیر وویل چې شرعیاتو پوهنځی د ټولنې په اصلاح او لارښوونه کې مهم رول لوبولی شي او د یاد پوهنځي له استادانو یې وغوښتل چې ټول په یوه فکر او یووالي سره د افغان بچیانو په سالمه روزنه کې پوره هڅه وکړي.

## سرپرست وزارت تحصیلات عالی طی نشستی پیشنهادات و مشکلات استادان پوهنځی شرعیات پوهنتون کابل را استماع نمود

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی، در حالیکه هیئت رهبری پوهنتون کابل نیز حضورداشتند، طی نشستی که در پوهنتون کابل صورت گرفت، پیشنهادات و مشکلات استادان پوهنځی شرعیات پوهنتون کابل را استماع نمود.

در آغاز دکتور اسامه عزیز رئیس پوهنتون کابل در رابطه به پوهنځی شرعیات این پوهنتون معلومات داده آن را یک پوهنځی مهم در جامعه اسلامی عنوان کرد.

همچنان استادان پوهنځی یاد شده یک سلسله پیشنهادات، خواست ها و مشکلات شان را که شامل ایجاد تعمیر جدید، ایجاد برنامه های فوق لیسانس، ایجاد زمینه های کاری به محصلان، امتحان اختصاصی برای راه یابی پوهنځی شرعیات، انکشاف دیپارتمنت های پوهنځی شرعیات و نصاب تحصیلی و ایجاد زمینه های بیشتر برای برنامه های تحقیقاتی می باشند، با سرپرست وزارت تحصیلات عالی شریک ساختند.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی حل مشکلات استادان پوهنځی شرعیات پوهنتون کابل از جمله اولویت های خویش خوانده وعده داد که در این راستا گام های عملی را خواهد برداشت.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان گفت که پوهنځی شرعیات در قسمت رهنمایی جامعه نقش مهم داشته و از استادان یاد شده خواست که با یک فکر عالی و واحد در راستای تربیه اولاد این وطن تلاش نمایند.

## د لوړو زده کړو او اوبو او انرژۍ وزارتونو تر منځ د دوه اړخیزو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو

د یادې هوکړې موخه د لوړو زده کړو او اوبو او انرژۍ وزارتونو تر منځ د علمي څېړنو، په ملي او لویو پروژو کې د استادانو له ظرفیتونو څخه ګټې اخیستنې، په علمي څېړنو کې د دواړو وزارتونو له تخنیکي امکاناتو څخه ګډه استفاده، د تجروبو شریکولو او د محصلینو لپاره د عملي کارونو زمینې مساعدول دي.

په همدې مناسبت په لوړو زده کړو وزارت کې جوړې شوې غونډه کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب یاده هوکړه د دواړو وزارتونو او هېوادوالو لپاره ګټور وبلله او زیاته یې کړه چې ټولې امارتي اداري له یوبل سره ګډ کار او همکارۍ ته ژمنې دي.

دغه راز د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د دغه وزارت له رئیس صاحبانو او پوهنتونونو له مسؤلینو وغوښتل چې د یادې هوکړې په عملي کولو کې پوره هڅه وکړي.

همدارنګه د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر مولوي عبداللطیف منصور وویل چې موږ د هېواد د ودانولو او ځان بسایني لپاره مسلکي کادرونو ته اړتیا لرو، چې په دې برخه کې لوړو زده کړو وزارت د علمي کادرونو په درلودلو سره له موږ سره ښه مرسته کولی شي.

همدا راز د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه وویل چې لوړو زده کړو وزارت د ټولو وزارتونو لپاره بشري ځواک روزي. نوموړي زیاته کړه: «د دې هوکړې پر بنسټ زموږ د تدریس تیوري ښه تجروبې او تطبیقي لوري ته ځي.»

د غونډې په پای کې د دواړو وزارتونو د سرپرست وزیرانو له لوري هوکړه لیک لاسلک شو.

## تفاهمنامه همکاری های دوجانبه میان وزارت تحصیلات عالی و وزارت انرژی و آب در وزارت تحصیلات عالی امضا شد

هدف از امضا این تفاهمنامه را اندازی پروژه های تحقیقاتی مشترک، استفاده از لابراتوار ها و امکانات تخنیکی، ایجاد زمینه کار های عملی برای محصلان، استفاده از ظرفیت های اساتید نهاد های تحصیلی در پروژه های بزرگ ملی و تخنیکی، ارتقای ظرفیت و سایر بخش ها می باشد.

در محفلی که به این منظور دایر شد، شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی امضاء این تفاهمنامه را یک گام مفید برای وزارت های یاد شده و کشور خوانده گفت که تمام ادارات امارتی برای انجام کار های مشترک متعهد می باشند.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان از معینان، رؤسای ادارات مرکزی و رؤسای پوهنتون های کشور خواست که در تطبیق مواد این تفاهمنامه تلاش نمایند.

هکذا مولوی عبدالطیف منصور سرپرست وزارت انرژی و آب طی صحبت های شان اظهارداشتند که برای آبادی و خودکفایی کشور به کادر های مسلکی نیازداریم که وزارت تحصیلات عالی با داشتن کادر های علمی و مسلکی می تواند ما را کمک نمایند.

به همین ترتیب دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی نیز صحبت نموده گفت که وزارت تحصیلات عالی منابع بشری سایر ادارات کشور را تولید می نماید. موصوف اضافه نموده گفت: « به اساس این تفاهمنامه شیوه تدریس نظری (تیوریک) به سوی شیوه های تجربی وتطبیقی سوق داده خواهد شد.»

در پایان تفاهمنامه یاد شده توسط سرپرستان وزارتخانه های تحصیلات عالی و انرژی و آب امضاء گردید.

# Higher Education Weekly

د لوړو زده کړو وزارت
وزارت تحصیلات عالی
Ministry of Higher Education

شماره ۲۴۳ - سال دهم - سرطان - ۱۴۰۲ هـ.ش


## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب د برتانیې هېواد چارسمبالي سفیر سره په خپل کاري دفتر کې وکتل

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب افغانستان لپاره د برتانیې هېواد چارسمبالي سفیر رابرت چارټرن دیکسن ( Robert Chatterton Dickson) سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په پیل کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم صاحب نوموړي ته ښه راغلاست ووایه او هیله یې وکړه، چې دغه لیدنه له برتانیه سره په اړیکو کې د I.I.I د پرمختګونو د زیاتوالي باعث شي.

سرپرست وزیر دغه راز وویل« د ټولي نړۍ د هېوادونو امنیت سره تړلی او د دې هېواد دایمي امنیت په تحصیل او تعلیم راتللی شي؛ نو پکار ده، چې نړیوال د افغانستان تحصیلي او تعلیمي ملاتړ او پرمختګ په برخه کې همکاري وکړي».

نوموړي همدارنګه بهر ته تللیو افغان علمي کادرونو ته په اشاري سره وویل، چې مونږ د هېواد د علمي کادرونو قدرداني کوو او دا یې خپل کور دی او ټول باید د دې هېواد په ابادۍ کې خپله ونډه واخلي.

په یاده لیدنه کې د افغانستان لپاره د برتانیې هېواد چارسمبالي سفیر رابرت چارټرن دیکسن د لوړو زده کړو له سرپرست وزیر څخه د وخت ورکولو له امله مننه وکړه او ترخنګ یې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت سره د ترسره کړیو همکاریو یادونه وکړه.

افغانستان لپاره د برتانیې هېواد چارسمبالي سفیر زیاته کړه، چې برتانیه په ډېرو برخو کې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت سره د همکاریو او مرستو فرصتونه لري او هوډ لري، چې په منظم ډول یې په کار واچوي.

## د کندوز پوهنتون مخترع محصلین د ولایت مقام لوري وستایل شول

د کندوز ولایت مقام له لوري د کندوز پوهنتون هغه ځوان اختراع کونکي محصلین وستایل شول چې څه موده وړاندې یې د اوبو واټر پمپ اختراع کړی و.

د کندوز پوهنتون دښووني او روزنې پوهنځي فزیک څانګې یو تن استاد او (۷) تنه هغه محصلین چې څه موده وړاندې یې د خپلو استادانو په لارښوونه په خپلو وړتیاوو سره په کمو امکاناتو یو داسې یو پمپ اختراع کړی و چې د باد په ذریعه اوبه پمپ کوي چې تر ۵۰۰ متره مربع په لوړوالي سره پرته له بریښنا څخه اوبه انتقالولو وړتیا لري ،نن د کندوز ولایت د رهبرۍ لخوا د یوې غونډې په ترڅ کې په مادي او معنوي توګه وستایل شول.

### د لوړو زده کړو وزارت تخصصاتو اړوند د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه جامعې د یو باب کانتین جوړولو افر خلاصولو غونډه د داوطلب شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه

د داوطلبۍ په دې پروسه کې چې په بشپړه شفافه فضا کې تر سره شوه، د ۱۱ ګډون کوونکو شرکتونو وړاندیزونه د دوی د استازو په شتون کې پرانستل شول او د تدارکاتي نورمونو له مخې ګټونکی شرکت اعلان شو.

د لوړو زده کړو وزارت د تهیه او تدارکاتو ریاست د مسؤلینو په وینا، ټاکل شوې دغه کانتین د کابل پوهنتون په انګړ کې جوړ شي.

د یادونې وړ ده، چې یاد شوي افرونه به د بعدي مراحلو طی کولو لپاره د ارزونې ګډ کمیسیون ته وسپارل شي.

### جلسه آفرگشایی اعمار یک باب کانتین مربوط به تخصصات عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وزارت تحصیلات عالی، در حضورداشت نمایندگان شرکت های داوطلب برگزار گردید

در این پروسه داوطلبی که در فضای کاملاً شفاف صورت گرفت، آفر های ۱۱ شرکت اشتراک کننده در حضورداشت نمایندگان شان باز و مطابق نورم های تدارکاتی، شرکت برنده اعلان گردید.

به گفته مسئولان ریاست تهیه و تدارکات وزارت تحصیلات عالی، قرار است کانتین متذکره در محوطه پوهنتون کابل اعمار گردد.

قابل ذکر است که آفر های یاد شده جهت طی مراحل بعدی به کمیسیون مشترک ارزیابی سپرده خواهد شود.

### ډاکټر خپل ژوند او روغتیا د نورو د روغتیا او ژوند لپاره له ګواښ سره مخ کوي

د کابل طبي علومو پوهنتون د کنفرانسونو په نمبر(۱) تالار کې د ډاکټرملي ورځ د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د کابل طبي علومو پوهنتون رئیس، د پوهنتون علمي مرستیال، د پوهنځیو او تدریسي روغتونونو رئیسانو، د پوهنتون استادانو ، متخصصینو، محصلانو او ګڼ شمېر نورو کسانو په ګډون سره ولمانځل شوه. په یاده غونډه کې د کابل طبي علومو پوهنتون رئیس پوهنیار دوکتور فضل الرحمن رحماني د ډاکټر ملي ورځې د مبارکۍ تر څنګ په خپلو خبرو کې د ډاکټرانو د زیار او هڅو ستاینه وکړه او ویې ویل: "ډاکټران د هر ډول ناروغیو د خطرونو سربېره خپل ژوند د نورو خلکو د روغتیا لپاره وقف او روغتیایي خدمات تر سره کوي څو خلک روغ او سالم ژوند ولري".

د غونډې په دوام د پوهنتون علمي مرستیال پوهاند دوکتور نجیب الله امرخېل ډاکټرانو ته د دغې ورځې مبارکي ورکړه او ویې ویل چې د ډاکټر ورځ باید د خلکو او ناروغانو لخوا د شانداره مراسمو په ترڅ کې ولمانځل شي او هڅې یې وستایل شي ترڅو ډاکټران لا تشویق شي او ښه روغتیایي خدمات وړاندې کړي. وروسته د قلبي، وعایي هضمي ډیپارټمنټ استاد پوهاند دوکتور شمس الرحمن رحماني د ټولو ډاکټرانو او استادانو په استازیتوب په ټولنه کې د ډاکټر د مقام په اړه خبرې وکړې او په ملي کچه په ټول هېواد کې د د غې ورځې د لمانځلو وړاندیز یې وکړ.

په پای کې د کابل طبي علومو پوهنتون د دعوت او ارشاد آمر مولوي حبیب الله حماد د اسلام له نظره د ډاکټر د مقام په اړه خبرې وکړې او غونډه په اختتامیه دعا سره پای ته ورسېده.

### داکتر زندگی و سلامتی خود را برای سلامتی و زندگی دیگران به خطر می اندازد

از روز ملی داکتر طی مراسمی با حضور رئیس پوهنتون علوم طبی کابل، معاون علمی، روئسای پوهنځی ها و شفاخانه ها، متخصصین، استادان، و شماری از محصلان و کارمندان در تالار کنفرانس های علمی پوهنتون علوم طبی کابل تجلیل شد.

در این مراسم پوهنیار دوکتور فضل الرحمن رحمانی رئیس پوهنتون علوم طبی کابل ضمن تبریکی روز ملی داکتر از سعی و تلاش داکتران قدردانی کرده گفت:« داکتران با وجود هر نوع خطرات بیماری ها، زندگی خود را برای صحت مردم وقف و خدمات صحی را انجام می دهند تا مردم زندگی سالم داشته باشند.»

در ادامه پوهاند دوکتور نجیب الله امرخیل معاون علمی پوهنتون این روز برای داکتران مبارکی داده و گفت:«روز داکتر باید از سوی مردم و بیماران طی مراسمی با شکوه تجلیل شود و خدمات شان مورد ستایش قرار گیرند تا بیشتر تشویق شده و خدمات صحی بهتر را ارایه نمایند.»

در محفل یاد شده به نمایندگی از داکتران و استادان پوهاند دوکتور شمس الرحمن رحمانی استاد دیپارتمنت داخله قلبی وعایی و هضمی در مورد جایگاه داکتر در جامعه صحبت کرده و گفت که از این روز به سطح ملی در تمام کشور تجلیل شود.

در اخیر مولوی حبیب الله حماد آمر دعوت و ارشاد از دیدگاه اسلام در مورد مقام داکتر صحبت نمود و مراسم با دعای اختتامیه به پایان رسید


**هفته نامه تحصیلات عالی**

صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: قاری محمد سلیمان شریفی

هیأت تحریر: اختر محمد عبیر، محمد اسلم اسلم و احمد جاوید حکمت
خبرنگاران: کاوون رمز، محب الله امیری
محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی
جمع آوری مواد: محمد اسحاق معصومی

دیزاینر: هادی قدیری
مصحیح: الفت الله حلیم
تیراژ: ۱۰۰ نسخه
سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۶۹۶
وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af
آدرس الکترونیکی: info@mohe.gov.af

# پیشنه تاریخی و معرفی وزارت تحصیلات عالی:
## معرفی پوهنتون علوم طبی کابل ( ابوعلی ابن سینا)



**معلومات عمومي:**

پوهنځی طب کابل مبنی برنیاز ایجاد تحصیلات عالی در کشور بعد از بررسی های همه جانبه و پیشنهاد علی احمد خان وزیر معارف ( از سال ۱۳۰۸ الی ۱۳۱۲) که در زمان تصدی شان در معارف بود، در ماه عقرب سال۱۳۱۱هـ ش مطابق به ۱۹۳۲م در زمان سلطنت نادرشاه، منحیث اولین نهاد تحصیلات عالی در کشور تاسیس شد که با ۸ تن محصل آغاز به کار کرد.

از اینکه در ابتدا بنای اساسی برای پوهنځی طب وجود نداشت، بناً تعمیری واقع دارلامان و بعداً تعمیر لیسه حبیبیه (لیسه عایشه درانی فعلي) انتخاب شده بود. بعداً تعمیر اساسی و بنیادی فاکولتۀ طب که فعلاً پوهنځی شرعیات پوهنتون کابل است، اعمار و پوهنځی طب به آن انتقال نمود.

چون در آن زمان کادر علمی و اداری که بتواند امورات پوهنځی طب را به پیش ببرد، در کشور موجود نبود. بناءً تصمیم گرفته شد تا از کشور دوست ترکیه در این مورد کمک خواسته شود، همان بود که با پوهنتون لیون کشور ترکیه قرار دادی بسته شد و به موجب آن پوهنتون لیون به مدت ۱۰ سال اساتید خود را در رشته های مختلف در اختیار پوهنتون طب کابل قرار داد. که پروفیسوران کشور ترکیه بخش های مختلف پوهنځی طب را به عهده و روز تا روز تقویه نمودند.

که دوکتور رفقی بیگ بحیث اولین رئیس این موسسهٔ و سپس پروفیسور دکتور حسن رشادبیگ و به تعقیب آن پروفیسور داکترزاهدی بیگ که همه پروفیسوران کشور دوست ترکیه بودند باالترتیب سمت ریاست این پوهنځی را بعد از امضاء توامیت به عهده داشتند. پروفیسوران کشور دوست ترکیه با ایجاد نظام نامه، دیپارتمنت های مورد نیاز و مسولیت دیپارتمنت های مربوطه، خدمات شایانی را در بخش اکادمیک به پوهنځی طب منحیث اولین نهاد تحصیلات عالی در افغانستان تاسیس نمودند.

بعدتر، پوهنځی فارمسی و چند مرکز درمانی دیگر از جمله شفاخانه نادرشاه، شفاخانه ۱۰۰ بستر سنایی و ... برای آموزش عملی محصلان و چند آزمایشگاه تخصصی به این پوهنتون اضافه شد. بعداً با ارتقای کادرهای داخلی در مقاطع مختلف زمانی امور اداری و تدریس بصورت مشترک با همکاری علمی دوکتوران ترکی، فرانسوی، روسی و امریکایی رهبری می شد.

در دهه ۵۰، پوهنتون طب کابل که پیش‌تر زیر مجموعهٔ وزارت تحصیلات عالی محسوب می‌شد، زیر نظر وزارت صحت عامه قرار گرفت. که به همین ترتیب در ادوار مختلف این نهاد طبی تحولاتی را پیموده است که:

- در سال ۱۳۵۹هجری شمسی به سطح انستیتوت تحت نام انستیتوت دولتی طب کابل ابوعلی ابن سینا که شامل فاکولته های طب معالجوی، طب اطفال و ستوماتولوژی بود، ارتقاء نمود.
- در سال ۱۳۸۳هـ ش با تکمیل معیارات لازم به سطح پوهنتون تحت نام پوهنتون طبی کابل ارتقاء کرد.
- در سال ۱۳۸۵هـ ش فاکولتۀ نرسنگ در چوکات پوهنتون طبی کابل ایجاد شد.
- در سال ۱۳۸۹هـ ش فاکولتۀ صحت عامه بنابر نیاز جامعه تاسیس شد.
- در سال۱۳۹۱هـ ش فاکولتۀ علوم متمم صحی با در نظرداشت نیازمندی های مبرم کشور با ایجاد دیپارتمنت های فارغ درچوکات پوهنتون تاسیس شد.

# د تحصيلي بنسټونو د علمي کادري بستونو اعلانونه

**د البيروني پوهنتون علمي کادري بست خبرتيا!**

البيروني پوهنتون د لومړي ځل لپاره په لاندې ځانگو کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا اويا ماسټري په کچه علمي کادر ته اړتيا لري:

د حقوق اوسياسي علوم پوهنځی :

د اداره او ديپلوماسي ډيپارټمنټ (۱) بست.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٤/۱۲/۱٦ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٥/۱/٦هـ.ق پورې ياد علمي کادري بست ته د نوم ليکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره يوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د هرات پوهنتون علمي کادري بست خبرتيا !**

هرات پوهنتون د دريیم ځل لپاره په لاندې ځانگو کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا، ماسټري اويا لېسانس په کچه علمي کادر ته اړتيا لري:

د حقوق او سياسي علوم پوهنځی :

د جنايي علومواو حقوق جزا ډيپارټمنټ (۱) بست.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٤/۱۲/۱٦ هـ.ق څخه تر۱٤٤٤/۱۲/۲٦ هـ.ق پورې ياد علمي کادري بست ته د نوم ليکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره يوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د سيدجمال الدين افغاني پوهنتون علمي کادري بست خبرتيا !**

سيد جمال الدين افغاني پوهنتون د لومړي ځل لپاره په لاندې ځانگو کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا، ماسټري اويا لېسانس په کچه علمي کادر ته اړتيا لري:

د شرعياتو پوهنځی :

د اسلامي تعليماتو ډيپارټمنټ (۱) بست.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٤/۱۲/۱٦ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٥/۱/۱٥ هـ.ق پورې ياد علمي کادري بست ته د نوم ليکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره يوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د کابل پوهنتون علمي کادري بستونو خبرتيا !**

کابل پوهنتون دويم او دریيم ځل لپاره په لاندې ځانگو کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا، ماسټرۍ او لېسانس په کچه علمي کادرونو ته اړتيا لري:

د اداري او عامه پاليسۍ پوهنځی :

د پراختيا مديريت ډيپارټمنټ (۲) بسته )دويم ځل).

د ښکلو هنرونو پوهنځی:

د تياتر ډيپارټمنټ (۱) بست (دریيم ځل).

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٤/۱۲/٥ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٤/۱۲/۱٥هـ.ق پورې يادو علمي کادري بستونو ته د نوم ليکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره يوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د باميان پوهنتون علمي کادري بست خبرتيا !**

باميان پوهنتون بيا ځل لپاره په لاندې ځانگه کې د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا، ماسټرۍ او لېسانس په کچه علمي کادر ته اړتيا لري:

د شرعياتو پوهنځی :

فقهې ډيپارټمنټ (۱) بست.

داوطلبان کولای شي، چې د ۱٤٤٤/۱۲/٥ هـ.ق څخه تر ۱٤٤٤/۱۲/۱٥هـ.ق پورې ياد علمي کادري بست ته د نوم ليکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دي د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره يوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**اعلان بست های کادری علمی پوهنتون فاریاب !**

پوهنتون فاریاب برای بار اول در سال ۱٤٤٤ هـ ق در رشته ذیل به سویه دوکتور، ماستر و لیسانس به کادرعلمی جدید ضرورت دارد.

پوهنځی تعلیم و تربیه :

دیپارتمنت فزیک (۳) بست.

دیپارتمنت اموزش کمپیوتر (۲) بست.

پوهنځی اقتصاد:

دیپارتمنت اداره و منجمنت (۱) بست.

دیپارتمنت مالی و بانکداری (۱) بست.

پوهنځی انجنیری:

دیپارتمنت مهندسی (۱) بست.

پوهنځی کمپیوترساینس:

دیپارتمنت سیستم های معلوماتی (۱) بست.

متقاضیان از تاریخ۱٤٤٤/۱۲/۱٥ الی ۱٥ /۱ /۱٤٤٥هـ ق درخواستي شمولیت در کادر علمي خویش را ضم اصل ترانسکریپت نمرات، کاپي همین اعلان از وب سایت وزارت، و کاپي تذکره تابعیت به پوهنتون مربوطه تسلیم نمایند.

**اعلان بست کادری علمی پوهنتون ننگرهار !**

پوهنتون ننگرهار برای بار اول درسال ۱٤٤٤ هـ ق در رشته ذیل به سویه دوکتور و ماستر به کادرعلمی جدید ضرورت دارد.

پوهنځی تعلیم و تربیه:

دیپارتمنت بیولوژی (۱) بست.

متقاضیان از تاریخ ۱٤٤٤/۱۲/۱٦ الی ۱٥ /۱ /۱٤٤٥هـ ق درخواستي شمولیت در کادر علمي خویش را ضم اصل ترانسکریپت نمرات، کاپي همین اعلان از وب سایت وزارت، و کاپي تذکره تابعیت به پوهنتون مربوطه تسلیم نمایند.

**اعلان بست کادری علمی پوهنتون تعلیم وتربیه کابل !**

پوهنتون تعلیم وتربیه کابل برای اول درسال ۱٤٤٤ هـ ق در رشته ذیل به سویه دوکتور ویا ماستربه کادرعلمی جدید ضرورت دارد.

پوهنځی علوم تربیتی ومسلکی

دیپارتمنت تعلیم وتربیه عمومی (۱) بست برای قشر ذکور.

پوهنځی علوم تربیتی ومسلکی

دیپارتمنت مدیریت آموزشی (۱) بست برای قشر ذکور.

متقاضیان از تاریخ۱٤٤٤/۱۲/۱٦ الی ۱٥ /۱ /۱٤٤٥هـ ق درخواستي شمولیت در کادر علمي خویش را ضم اصل ترانسکریپت نمرات، کاپي همین اعلان از وب سایت وزارت، و کاپي تذکره تابعیت به پوهنتون مربوطه تسلیم نمایند.

# سرلیکنه

هـدف تـه د رسېدو پـه موخـه د لـوړو زده کـړو وزارت او اوبـو او انـرژۍ وزارت ترمنځ هوکړه لیک لاسلیک شو.

د یـو نظـام لپـاره پـه ټولـه کـې د دوی د سـتراتیژیکو سیاسـتونو او موقتـو سیاسـتونو کـې د ادارو ترمنـځ عمیقـه همـکاري او د خاصـو سیاسـتونو ترمنـځ جـوړ جـاړی، د یـوه نظـام لپـاره لـوری انتخابـوي، بریالـی نظـام او د پرمختـګ لـور تـه تلونکـی او د پرمختـګ غوښـتونکی نظـام هغـه وخـت خپـل هـدف تـه رسېدلی شي، چې لومړی د پرمختـګ سـمت او لـوری درک کـړي او بیـا د هغـه لـور تـه کوټلي ګامونـه واخلـي.


پـه همـدې موخـه د لـوړو زده کـړو وزارت او د اوبـو او انـرژۍ وزارت ترمنځ د یـوه نظام تـر چـتر لانـدې د علمـي او عملـي همکاریـو او د یـو بـل لـه ظرفیتونـو څخـه د هېـواد پـه سـترو او مـلي پـروژو کـې د ګـډې ګټـې اخیسـتنې لپـاره دوه اړخیـز هوکـړه لیـک لاسلیک شو.

د دغـه هوکـړه لیـک پـه اسـاس بـه پوهنتونونـه او د هېـواد د لـوړو زده کـړو مرکزونـه د تطبیـق ځـوا تـه ځـي او علـوم، چـې تطبیقـي او تجربیـي برخـې لـري، پـه رښـتینې معنـی بـه تطبیقـي او تجربیـي شي. دغـه راز بـه سره یـاد دواړه وزارتونـه هـم د تطبیـق ځـوا تـه ځـي، چـې د اوبـو او انـرژۍ وزارت لـه مسـلکي اشـخاصو څخـه بـه د لـوړو زده کـړو وزارت او د لـوړو زده کـړو وزارت لـه علمـي اشـخاصو څخـه بـه د اوبـو او انـرژۍ وزارت اسـتفاده کـوي او ترڅنـګ بـه یـې د محصلینـو د عملـي زده کـړو لپـاره زمینه برابره شي.

په درنښت

اداره

## نبوي سیرت صلی الله علیه وسلم




## له بني سعد سره



د ښـار اوسـېدونکو عربانـو درلـود چـې خپلـو اولادونـو تـه بـه یـې ل صحرایـي خلکـو نـه دایـې (شـیدې ورکوونکـې ښـځې) نیولـې، تـر څـو هغـوی لـه ښـاري مرضونـه سـالم پاتـې شي، اندامونـه یـې پیـاوړي، اعصـاب یـې مضبـوط وي، او پـه ژانګـو کـې فصیحـه عـربي ژبـه زده کـړي، نـو د همـدې عـادت پـه بنـا عبدالمطلب هـم د خپـل سـمي لپـاره دایـه لټولـه، بالاخـره یـې د بنـي سعد بـن بکر کونـۍ یـوه ښـځه چـې حلیمـه بنـت ابي ذویب نومیـده د هغـه لپارهـه دایـه ونیولـه. د حلیمـې مېـړه حـارث بـن عبدالعزی نومیـده، کینـه نـوم یـې ابـو کبشـه و او له همدې قبیلی (بني سعد بن بکر ) څخه و.

هلتـه د رسـول اکـرم (صلـی اللـه علیـه والـه وسـلم) رضاعـي ورونـه او خوینـدی دا وو: عبداللـه بـن الحـارث، انیسـه بنـت الحـارث، حذافـه او یـا جذامـه بنـت الحـارث (لقب یـې شـیماء و، خـو همـدا لقـب یـې تـه نامـه نـه زیـات مشـهور و ( نومـوړې بـه رسـول اکـرم (صلـی اللـه علیـه والـه وسـلم) پـه غېـږ کـې ګرځـاوه او کـرار اوه بـه یـې) او ابـو سـفیان بـن الحـارث بـن عبدالمطلب چـې د رسول الله ( صلی الله علیه واله وسلم) د تره زوی هم کېږي او د حلیمې لـه طرفـه د رسول الله (صلی الله علیه و اله وسلم) رضاعي ورور دی.

د رسـول کریـم (صلـی اللـه علیـه و الـه وسـلم) تـره حمـزه (رضـی اللـه عنـه) هـم لـه رسـول اللـه (صلـی اللـه علیـه و الـه وسـلم) نـه مخکـې د بنـي سـعد بـن بکـر پـه قبیلـه کـې و، یـوه ورځ د حمـزه (رضـی اللـه عنـه) رضاعـي مـور هـم رسـول اللـه (صلـی اللـه علیـه والـه وسـلم) تـه شـیدې ورکړېـدي نـو پـدې اسـاس حمـزه (رضـی اللـه عنه) له دوو خواوو نه د رسول اکرم (صلی الله علیه و الـه وسـلم) رضاعـي ورور و، یـو د ثویبـې لـه خـوا نـه او بـل د همـدې سـعد یـې ښـځې لـه پلـوه . د رضاعـت پـه دوران کـې حلیمـې د رسـول اللـه (صلـی اللـه علیـه والـه وسـلم) داسـې برکتونـو لیـدلي چـې بـاکل ورتـه حیرانـه وه. راځـئ پـدې هکلـه یـوه کیسـه پخپلـه د حلیمې له خولې نه واورو:

ابـن اسـحاق وایـي: حلیمـې بـه ویـل: ز لـه خپـل مېـړه او کوچنـي زوی چـې شـیدې مـې ورکولـې د بنـي سـعد کورنـۍ لـه یـوې ډلـې ښـځو سر لـه کـوره پـدې نیـت ووتلـو چـې د شـیدو ورکولولپـاره مشـومان پیـدا کـړو. وایـي: دغـه کال ډېـر وچ و، مونـږ تـه هیـڅ هـم نـه و راپاتـې. وایـي: پـدې سـفر کـې زه پخپلـه سـپینه خـره سپره وم. زمونـږ سره یـوه زړه اوښـه هـم وه، چـې هیـڅ شـیدې یـې نکولـې، ماشـوم مـو هـم ډېـر وږی و، ټولـه شـپه مـو د دوه لـه لاسـه خـوب نـه درلـود ځکـه لـه کـوږې بـه یـې ژړل، زمـا پـه تیـو کـې څـه نـه و او اوښـې هـم دومره شـیدې نـه کولې چـې د ده بس شـوي وی. خـو دا طمعـه او هیلـه مـو درلـوده چـې بـاران بـه وشي او لاس به مولږ آزاد شي.

**لنډه دا چې ... ان شاء الله بله شمېره کې:**